# د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مې په: لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ ګواهۍ ورکولو، لمانځه ادا کولو، زکات ورکولو، پیروۍ او اورېدلو او هر مسلمان ته په نصیحت کولو بیعت وکړ

له جریر بن عبد الله رضی الله عنه څخه روایت دی وایي چې: د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مې په: لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ ګواهۍ ورکولو، لمانځه ادا کولو، زکات ورکولو، پیروۍ او اورېدلو او هر مسلمان ته په نصیحت کولو بیعت وکړ.

[(صحیح] [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روایت کړی دی]

صحابي جرير بن عبد الله رضي الله عنه خبر ورکوي چې هغه له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره پدې بيعت وکړ چې د الله جل جلاله يووالي به مني، له شرطونو، رکنونو، واجباتو او سنتونو سره به په شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځ کوي، فرضي زکات به ورکوي چې له مالدارانو اخېستل کيږی او اړمنو غريباتو ته ورکول کيږی، او پدې چې د واکمنانو پيروۍ به کوي، هر مسلمان ته به نصيحت کوي، هغه ته به په خېر رسولو ټينګار کوي او په وينا او کړنو به ورڅخه شر دفع کوي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3512

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee